

# Ghani Khan

1914-1996

Translated by Taimur Khan

# Introduction

Ghani Khan was born in Hashtnagar. He is widely considered the best pashto language poet of the 20th century and stands on a par with Khushal Khan Khattak and Rehman Baba. He was the son of the Red-Shirt Leader, Khan Abdul Ghaffar Khan, aka *Bacha Khan* and *The Frontier Gandhi*. His wife Roshan came from a parsi family and was the daughter of Nawab Rustam Jang.

He went to study at Rabindranath Tagore's Shanti Niketan Art Academy and developed a liking for painting and sculpture. He visited England, and studied sugar technology in the United States, after which he returned and started working at the Takht Bhai Sugar Mills in 1933. Largely owing to his father's influence, he was also involved in politics, supporting the cause of the pathans of NWFP. He was arrested by the Government of Pakistan in 1948 – although he had given up politics by then – and remained in prison till 1954, visiting various jails all over the country. It was during these years that he wrote his poem collection *Da Panjray Chaghaar,* and considered it the best work of his life. Aside from a few poems of his youth and early manhood, Ghani Khan's poetry, like his temperament, is anti-political. His other two poem collections are: *Panoos* and *Palwashay*. He also wrote *The Pathans*, a short book in prose, published 1958.

The singular distinction of his poetry – aside from his obvious poetic genius – is a profound blend of knowledge about his native and foreign cultures, and the psychological, sensual, and religious aspects of life.

Taimur Khan

# ريدی ګل

يوه ورځے يو صحرا کښے په ښکار وتے ووم روان
يو ګلاب م ولاړ وليد، پرقيده خيشته خندان
زه خفه ئے خوا له لاړم، ما وے، آه! زما په شان
ته هم ګل ئے بدنصيبه، روکۀ زلفو د جانان
نه د چا نيازبينے ګوتے، نرم مخ له به دِ يوسی
نه به ښکل دِ کړی سرے شونډے د يار سرۀ نازک لبان

هغه غلے شان مُسکے شو، وے خان مه کوه خفګان
زه به دا صحرا ورنه کړم، دَ ايران په ګلستان
دلته زه يو اؤ يکتا يم، هلته زر زما په شان
چارچاپيره سپيرے خاؤرے، زه يوازے يم روښان

دلته دے تور ريګستان کښے زه د رنګ اؤ نور لمبه يم
د خاشت چپه نغمه يم، کرشمه د لامکان
ستا په باغ کښے په زرګونو، دی ګلاب زما په شان
يو بے نومه سور درياب کښے يو بے نوم څاڅکے روان
ته د هم په خپل صحرا کښے خفه مه شے زما وروره
آخر رابه شی ديدن له دِ څرک سرے غنیٔ خان

**A Poppy Flower**

In a desert, once, on a hunt did I find,
With a radiant smile, a flower so fair;
Sadly, I approached and sighed, “Ah! Of my kind
Are you too – a hapless flower from a beloved's hair.
Frail fingers wouldn't take you to a soft face so close,
Nor would you be kissed by lips delicate and rose.”
With a silent smile the flower replied, “Don't lose heart!
This desert I wouldn't give up for the gardens of Iran,
A solitary I am here while legions are there,
Amidst this cursed soil I stand apart.
In this gray desert, a flamboyant flame of divine light am I,

Beauty's silent song, a miracle from the sky.
In your garden, there are thousands of flowers like me –
A nameless droplet in a nameless sea.
You too, in your desert, don't feel forlorn,
To behold you at last shall come a sore Ghani Khan.

---

## ساز

زه یو مست شان لیونتوب یم    د هوا په اس سوریږم
که یو رنګ دَ یار د سترګو    شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له، ولې جوړ شوم    خبر نه یم، نه پوهیږم
ولې سوز شم، ولې ساز شم    یو اواز یم چه غږیږم
د زړه پټو تارخانو ته    یو شغله یم چه کوزیږم
یو سرور یم چه شرنګیږم    یو خمار یم چه مستیږم
چه په رګ، رګ کښې د اور شم    یو لمبه یم چه رپیږم
دا زهٔ نور یم چه پړقیږم    که سرور یم چه سوزیږم
حقیقت د نشته باد یم    مستوُل کوُم مستیږم
په خندا کښې د ژړا دد    په خفه سترګو خندیږم
وایه، وایه لیونیه!    ولې ژاړے چه ژړیږم
اوُ چه پړق د اتنړ واچوُم    ستا په وینه کښې ګډیږم
دا زه تش د خیال دهوکه یم    که یو خیشت یم چه خوریږم
که یو مست د باد نیلے یم    په فکرونو کسے څغلیږم ؟
که د تال او شرنګ نه جوړه    یو دعا یم چه قبلیږم ؟

**Music**

I am madness in raptures
borne on an airy steed,
A hue of beloved eyes
coloring up in dance.
Why, what am I made for,
I neither know nor gather;
Now a mood, now melody,
a voice that just rings on.
I am a flame descending
to the heart’s hidden cellars;
I am a jingling joy,
a drunkenness in raptures.
In your veins a fire,
I am a quivering flame,
A sparkling radiance,
burning passion, yearning.
I don’t exist; I’m wind,
heaving joy on joy;
With tears in my cheer
and sad, smiling eyes.
Speak up, madman!
what makes you weep with me?

I spring in a spirited step    and reach your blood a-swing.
A mere illusive thought    or an ever-unfolding grace;
A reckless airy steed    rushing through reflections;
Or made of beat and jingle    a prayer that is heard.

---

## دعا

اے د حسن اؤ نورڈ دریابه! مـاله یو تکے د نور را
سترگے ډکے د خندا را، شونډے ډکے د سرور را
زه دے خپل وړوکی زړگی له، یوه نښه دیار غوارم
اے د حسن اؤ نور دریابه! مـاله یو تکے د نور را
دے تک‌تور د غم مـحل په یو بڅـری د رنړا را
سترگے ډکے د خندا را، شونډے ډکے د سرور را
دےمستئ اؤ دےارمان له، یو تصویر د جانان راکړه
ستا په مینه نازیدل را، ستا په ښکلی مخ غرور را
دےد خود سوے باغچےله، یوه وعده د بهار غواړم
زه دا نه وایم چه جنت را، زه دا نه وایم چه طور را
د دے خوب، د سا اؤ وخت، اشاره د تعبیر راکړه
مـاله زړه د بادشـاهانو اؤ سـینه د یو فـقـیـر را

**Prayer**

O river of beauty and radiance! Grant me a scintilla of light;
Grant me eyes full of laughter and lips full of delight.
For this minor heart of mine, I seek a beloved's souvenir;
O river of beauty and radiance! Grant me a scintilla of light.
For this pitch-dark sorrow's manor, a glowing grain to quell the night;
Grant me eyes full of laughter and lips full of delight.
For this rapture and its yearning, grant me a dear beloved's sight,
Indulge me with your greater love; grant me your gracious face's pride.
For this being's withered garden, I seek a covenant of spring,
I don't ask you to grant me heaven; I'm not seeking Sinai's height.
Let this dream's very breath and time point to its own interpretation,
Grant me the bosom of a fakir, and a heart with a shah's elation.

---

# د پسرلي شپه

د پسرلي شپه وه مستانه
ستوري کېدل ډېر روښان روښانه
سپوږمۍ ولاړه وه ښکلې حيرانه
ليوني سوال وکړو د خپل جانانه

رنړا مې پوهې له دلامکانه را
مستي م ستر ګو له د خپله ځانه را
د خپله ځانه ياره! د خپله ځانه
ليوني سوال وکړو د خپل جانانه

ناګاهه برق شو درباب د نور راغې
ځه په مستۍ راغې ځه په غرور راغې
هستي شوه ګونګه مستي ګويانه
ليوني سوال وکړو د خپل جانانه

او ليوني چه ورته زړګې کېنړ لرې
ډېر په خوارۍ پکښې ځاۍ شو يو بخرې
نور ډک د ځانه ؤ ډک د جهانه
ليوني سوال وکړو د خپل جانانه

درباب د نور لاړېښست او رنړا لاړه
او د جانان مستي جانان له بيا لاړه
ليونې پاتې شو خبرې ګريوانه
د پسرلي شپه وه مستانه

شمله هندوستان
7 ستمبر 1944

**A Spring Night**

It was an enchanting night in spring,
Alive with sparkling and shimmering stars;
The pretty moon stood still in wonder
While a madman pleaded to his love.

‘Give me the knowing from on high,
My eyes a rapture from your self,
From your own self, my love, your self!’
The madman pleaded to his love.

Radiance flowed with a sudden crash,
A bit in trance and a little proud,
Finding speech as the being turned mute.
The madman pleaded to his love

The madman pried open his heart,
Could barely let inside a spark;
The rest was full of the world and self.
The madman pleaded to his love

The river receded and light flowed back,
As to the beloved love’s rapture returned,
Leaving the madman and his pledge behind.
It was an enchanting night in spring.

*Simla, Hindustan*
*7 December 1944*

# لټون

## (ازاد نظم)

غرمه دَ اوړی
لکه شپه دَ ژمی
یو خاموشی
او قلارے خور دے
د کور کوړکو ګوګو
او چپ چاپ عالم هو
وخت خپه نیولے
په رکاب سور دے
دنیا دے خپل زړګی ته غوږ نیولے
د مرګ او ژوند حساب کتاب اوُری
فضا کښے ګډ یو مَسکیتوب شان دے
لکه په خوب کښے ځوګ رباب اوُری
او زه یواځے
په خیالونو کښے ډوب
د خپل ارمان
تلاش کښے ګرځمه
یو روګ
مجبوره
مسافر
یم روان
په مزکه پروت
په آسمان ګرځمه

ما دې هم خپل زړګی ته غور نیولی
د ژوند څه وجه څه نساب لټهوم
درد له اؤ مرګ له څه سوب ګورم
ابد کښې خپل د هوش حباب لټهوم
دَ ولې ولې
په درياب کښې روک
جام کښې شراب
او په شرابو کښې
په سور کتاب کښې
د جمات د تاخ
زه مرګ او ژوند له
یو تړون ګورم
چپه چپیا
او خاموشئې
کښې زه
شرنګ د ستار
د تال مضمون ګورم
چاپيره رنګ کښې
شنو ګُمترو کښې
ځان له جواب د خپل جمدون ګورم
زه لیونے یم، لیونے یم، رښتیا
په میخانه کښې افلاطون ګورم
ځان ته چه سترګې م راواړولے
بس
مرګ
او نیش د عدم
وینمه

زه لیونے یم، لیونے یم رښتیا
د مرګ په سترګو کښے جمدون کورم
غرمه دَ اورې
لکه شپه دَ ژمی
یو خاموشی
یو قلارے خور دے
چرته کښے لرے
یو بخړے
دَ نور
ستورے ؟
که لرے د صحرا اور دے
ماته ورږوکو
پلوشو
کښے وائی
که غر دَ لوټے
په سر ئے لار خو شته
څه ؟
که جمدون
یو روک
ساعت دے
دَ هوش
یو
ابدی
د ده، دلدار خو شته
زړګیه، ځان تګے که ما تګے
ځنګه ځان خلاص د هر جنجاله کړے

زړګيه، اے تږګه زړګيه زما
ځان کړے مشغول او ما خوشحاله کړے
خو که ستا نه منم
غرقيږمه
سم، په رښتيا
ليونے کيږمه
داضطراب په تور درياب کښے زه
اوس سرسری يم بيا ډوبيږمه
په تورو وېرو کښے رکيږمه
دلته په خپل اور کښے سوزيږمه
په جمدون تورے خاورے کيږمه
په خپلو وينو کښے ډوبيږمه

خښه نووابا

غرمه دَ اوړی
لکه شپه دِ ژمی
يو خاموشي يو قلارے خور دے
چرته کښے لړے
يو بخرے دِ نور
ستورے ، که لړے د صحرا اور دے
ماته وړوکو پلوشو کښے وائي
که غر د لوئے په سرئے لار خوشته
څه که جَمدون يو روك ساعت دَے دَ هوش
يو ابدی دده دلدار خوشته

**Search**

In the summer noon,
Like a winter night,
A silence,
A hush prevails.
The doves' cooing,
A meditative still;
Time slackens,
Planted in stirrups.
The world heeds its heart,

Hearing judgment on death and life.
A smile imbues the air
Like someone hears the Rabab in sleep.
And I alone
Lost in thought
Set out in search
Of my longing –
A lost,
Helpless
Sojourner
Wandering
Lying on the ground,
I tread the sky.
I too have lent my heart an ear,
To find some purpose or scheme to life;
Some cause for pain and death,
And the grain of my conscious in eternity.
Lost in the ocean
Of how and why;
Wine in the cup
And in the wine,
In the red book,
From the mosque's niche,
For death and life
I seek a link.
In mute
Silence
I
Seek the sitar's plucking
And rhythm's rules;
In surrounding colors
And blue pigeons
I seek the answer to my life.
I'm mad, I truly am –
I seek Plato in wine;
When I turn my gaze to myself,
Death,
Nothingness
Is all I see.
I'm mad, I'm mad indeed;
I seek life in death's gaze.
In the summer noon,
Like a winter night,
A silence,
A hush prevails.
Far away

A grain
Of light
A star?
Or a distant desert fire
Tells me
In tiny sparkles –
The hill is steep
But a track leads over the top.
What
If life
Is a lost
Conscious
Moment –
It has a lasting
Lover.
My heart, are you fooling yourself or me?
How easily you ease out of this hassle!
O, my deceptive heart,
How you engross and please me,
But I will not hear you,
Or I’ll be lost,
And really
Go mad;
Drown
In black waters of anguish
Where I’m still afloat;
Lose myself in dark fears.
Here I burn in my own flames
Turning to dust in life,
Sinking in my own blood.
In the summer noon,
Like a winter night,
A silence,
A hush prevails.
Far away
A grain
Of light
A star, or a distant desert fire
Tells me in tiny sparkles –
The hill is steep, but a track leads over the top.
What if life is a lost conscious moment –
It has a lasting lover.

---

# چه آدم

# خاروکښې کښېني

سرپټوب چه لوړ اوچت شي لېونتوب شي
چه خودي د خوده اوځي نو خمار شي
چه فولاد د وينې موړ په مينه مست شي
نو حيران اؤ پريشان تار د سِتار شي
چه ترې عشق اؤ جانان دواړه وخت فنا کړي
هله پوئې سړې په شان د ځان اؤ يار شي
چه آدم خاؤرو کښې کښېني څه زرغون کړي
منجيله چه په دولت شي نو ښامار شي
ماته حورې غِلمان مه ښنوه بس دې
په والله که بې له تا م په چا کار شي
دا چه نن پکښې زه مست اؤ مغرور ګرځم
سبا خدائې خبر د چا به دا ګلزار شي
ستا د مرګه نه يريږمه پښتون يم
خو م تش جمدون اؤ خوشې مرګ ته قار شي
زړه کښې ډوب د وسوسو درياب بهيږي
جوړ به کله د اميد رنګين آبشار شي
دا خپل زړه ستا بې پروا نظر ته ګوري
کله کله په ژړا څکه شاه تار شي
ساز ژړا ده که مستي ده نه پوهيږم
هر آواز کښې کله سوز کله چغار شي

## When Man Sits Down in Dust

Manhood stands tall and high, and becomes madness;
The self takes leave of being and becomes ecstasy.
When iron sated with blood embraces love,
It turns into a bewildered sitar string.
When time robs man of love and the loved one,
He sees the beloved's glory and his own.
How man sprouts when he sits down in dust!
A *manjila* resting on riches becomes a serpent.
Don't shower *houris* and *gilman* over me. Enough!
God, I swear, I'm not concerned with anyone save you;
Where today, I walk oblivious and proud,
God knows, to this garden, who will be the heir.
I am a Pukthun and am not afraid of death;
I am angered at an empty life and a desolate end.
The river of doubt runs deep through my heart,
Wondering when the brilliant waterfall of hope will flow.
My heart gazes at your indifferent eye and so
At times the great string breaks into tears.
Is music lament or rapture – I cannot decide;
Every tone now moves us, now becomes shrill.

---

# دوزخ

د آدم د نظر تول دے
د آدم د ژبے خیال دے
دا آواز زما د ګوتو
دا زما د ځِګر لوبے
دا زما خودے جوړ کړے
چا له بحر د شرابو
چاله بحر د زمزم دے
چاته ړوکے سپینه شمع
څوک پیغام د جبریل واوړی
چا ته سور په وینو تاج شو
چا په سر د صلیب ولید
د موسیٰ پشان څوک سیٔ کړی
څوک ترے جوړیره ژړا کړی
څوک د ګل د ماشوم مخه
چا په خوا د نرګس وُمُنت
خوش نصیبه وو څوک لاړل
چا د ناوے د جوړے نه
ربه! ربه! زما ربه !
څنګه خور قهر و غضب کړم
څنګه غوړ کیزدم ملا ته
څنګه ستا د نوراؤخیشت نه
د خندا د سپین سبا نه
د انسان د مایوسیٔ نه
د فقیر د تلوسو نه
که دا تور دے که دا سپین
دا سپلمئے او انګبین
پوست مړوند ننګے مهین
ګل اندامه او شیرین
د اوبو شراب رنګین
یو قطره ده د زمزم
یو غمګین ماښام د غم
د سپوږمیٔ نمره روښانه
د سرو شونډو د جانانه
چا ته تور په تیرو تخت
چا په سرو ریښمین بالښت
په مړ بُت کښے مخ د یار
څوک تږِ حسن او خمار
د آشنا شونډے کړی جوړے
چا ازغو کښے د کروړے
په خندا غیږے د یار له
کفن اوشلوو دلدار له
لیونے شوم په فکرونو
په سپرلی او سروګلونو
تورانۓ بلبله هیره
بدرنګی تیاره چاپیره
تور ماښام اولحد جوړ کړم؟
سُر سرور د ابد جوړ کړم؟
د بادشاه خمار کړم جوړ؟

د دوزخ د اور اؤ زور نــــه
څنګه ومنم تا جــوړ کــړ
چه خیام روان په زور کړے
د مستئ دا دومره ډک زړه
جــوړ دِ حــسن یارانه کــړه
تاکړه جوړ د خپل خائشت نه
ستــا د ښکتــه بنړو ســورے
تا خندل چه د ګــلاب رنګ
ستا په لاس خیام په جام کښے
څنګه غم غنی له ورکــړم؟
کــرکــه زړه کــښــے د بلبلے
څنګه شال د ونزے خور کړم
د حــبشی د عــشق لیــواله
څنګه لاس کښے محبوبا له
څنګ د یرے کوُځ کښے ډوب کم؟
څنګ جهان د حسن ډوب کم؟
اؤ د شـــــمع رنړا څنګه

ستــا خایشت سینګار کړم جوړ؟
دا جهان او اسمان دے له!
طوافــونو د کــعبــے له!
بس پیــدا ؤ وســوســے له؟
د جزا سزا قــیــصــے له؟
یو حــــســـیــن یو نازنین
هر ماښام پوست اؤ رنګین
د لـــولـــکــے وزر یـــوړه
بے خـــودئ او دلبــر یوړه
د قــیـــامت او حـــســابونو
د ســــپـــــرلی او دګلونو
د لیلئ په سپــین جــبــین
ښــاپیرئے کــړم د مـــاچین
خنجــر ورکـــړم د غـمـــاز؟
د مــئـــینو ســـتــرګـــو راز
په یو څاڅکی د تیرو کښے
کــړم بدله په ایرو کــښے

ربــه! ربــه! زمــــــا ربــه!
لیـــــونے شــــوم په فکرونو
څنګه خــور قــهــرو عــضب کــړم
په ســـپـــرلی او ســـرو ګلونو

خانپور جبل

## Hell

It is the measure of man's eye –
The black and the white;
The fancy of man's tongue –
Both milkweed and honey.
The tapping of my fingertips,
A soft arm and smooth cheek –
These songs of my spirit,
Flowery and sweet.
My god has made this
Colorful wine from water;
For some a sea of wine
Is a droplet of *zamzam*;
For some a sea of *zamzam*
Is a glum evening of sorrow;
To some a small white candle
Stands bright as the moon;
Some hear the message of Gabriel
From the red lips of the beloved.
One crown turns crimson with blood;
Some throne blackened by night;
One found it on the cross;
The other on a red silken pillow;
Some discover, like Moses,
In a lifeless idol the face of the beloved –
One turns it into dread and tears,
The other into beauty and spirit.
Some from a flower, from a child's face,
Create the lips of love;
Some find it by the narcissus,
Some among thorny bushes.
Happy the man who went
Laughing to the lap of his love –
Some tear from the bridal dress
A coffin for the beloved.
Lord! Lord! My lord!
I'm maddened by reflections –
How can I curse and tyrannize
The spring and crimson flowers.
How can I lend the Mullah an ear
And forget the lark and bulbul;
How upon your grace and light
Can I cast the veil of ugliness!
Turn the white morning of laughter
To a dark eve and tomb?
Turn man's despair to

The red joy of afterlife?
From the fakir's intrepidity
Create a king's drunkenness?
From the fire and might of hell
Delineate your grace?
How can I believe you made
This world and the skies for this –
When Khayyam is driven by force
To the pilgrimage of ka'aba?
This heart so full of spirits was
Made just to harbor doubts?
Were beauty and love spun out
As a tale of retribution?
You made out of your grace
Beauty and doting;
The shade of your under-plumes
Is soft and colorful at each sundown.
You laughed that the rose's color
Was borne away on a butterfly's wing;
In your hand, Khayyam's goblet
Took away abandon and love.
How do I bother Ghani with
The end and the judgment day?
Imbue spite in a bulbul's heart
For springtime and flowers?
How can I lay the shawl of a vassal
On the fair face of Laila?
Fulfill the longing of a Negro
With the presence of a fairy?
How can I turn over to the hand
Of the beloved the dagger of betrayal?
How can I sink in a dark well
The secret of enamored eyes?
How can I submerge a beautiful world
In a single drop of night;
How can I turn the glow
Of candlelight to ashes!

Lord! Lord! My lord!
I'm maddened by reflections
How can I curse and tyrannize
The spring and crimson flowers!

*Khanpur Jail*

# باچا

بادشاهي د جهان څه کې؟
د انصاف تلل مشکل دی
خپل غمونه دِ لالړ دی
داسې تخت به څه کړې څه کړې
د تېتړوانو په ګله کېږې
لوئ باچا د ځناورو
دا دنیا د سپي لکئ ده
په وجود توره پېشو ده
بادشاهي هله جوړېږي
چه یو کس د بل په غوښو
د دې ژوندهٔ څه مطلب شو
دا مېوه ګلاب دِ څه شو
ربه ماله که دِراکړه
زه به ئې وغورزوم له کوره
دا بودوه ګړئ ژوندون زه
ددې ظلم په کُتهُوئې دِ
ماله راکړه څو ګلونه
یو وړوکې غوندِ باغ
چه ئې زه په غاړه ناست یم
په مزه مزه لیکمه
کله سوال منت جانان ته
د ساغر ساقي صفت کوم
کله کله تانبه ربه
کله تود جمدې امید
کله تهنګ کله تېکور

ځان له ولې زیاتې غم
څه به ډېر کې څه به کم
د جهان غمونه غواړې
چه پرِشپه اوروځې ژاړې
غټ تټو مخکښې روان وی
د همّاؤ لونې حیوان وی
نه نیغېږي نه سمېږي
چه ئې وینځې لاتوړېږي
چه نیم لګې شي نیم مړه کړي
دخپل کور کوترې ماړه کړي
چه یا مرې یا به بل وژنې
باغ ساتې او بلبل وژنې
بادشاهي دَ کل جهان
لکه سرتې په ډېران
په جګړو نشم تېرولې
ربه بل کېبږده برغولې
یو نیازبین شانتې ځانان
او په خوانې سیندروان
په یخ سوری د خرولې
د مزې مزې غزلې
کله بد او رد ملاته
د تپېرو ډک لاله ته
د وړو په شان ګیلې
کله سوې اسوېلې
کله جام کله دِلبر

یو جهان کښېے د رنګ ډوب　　ډَ جهانه بے خبره
بادشاهي هغوله ورکه　　چه زغملے نے شي زور
چه په لاس لکه قصاب وي　　په خصلت لکه منګور
چه خپل ځان ته شي کولے　　قرباني د رور ډَ وينے
هم هضمولے هم خوړے شي　　د غريب د غوښو پينے
تاج وړلے هغه سر شي　　چه وژل لکه وبا کړه
لکه پړانګ داړل شيرل کړه　　يرول لکه بلا کړه
تخت هم نه پاتي بے زوره　　بے د توري د جلاده
بادشاهان چه څومره ډير وي　　دومره وي دنيا برباده
لوئ بادشاه وي لويه ژوره　　دے په وينو زووپاني
بادشاهي لکه د اور　　په روتو په سووپاني
ربه فضل په مونږ او که　　مونږ ساته ددے افته
چرته غټ خرته په شاکه　　دا ډَ سرو لالونو کته

سفارش ورته دا وکه
صيب زمونږه د بابته
وے پام کوه ډَ دله خره
غني ونه وے په لته

حيدر اباد جيل

**King**

What good is the world's kingship?
Why multiply your cares?
It's hard to weigh justice –
You'd make this more that less.
Don't you have enough worries
That you seek the world's troubles?
What would you do with such a throne
As makes you weep night and day?
In a large herd of mules,
The great mule leads the rest –
A great king of beasts
Is the greatest beast of all.
This world – a dog's tail –
Cannot be straightened or mended;
With a black cat's body
It blackens more with washing.
A kingdom is created
When half men starve and half die;
When one man feeds the flesh
Of another to dogs at home.
What would such life mean
That you either kill or die?
Where are your fruits and roses?
You keep a garden and kill the bulbul?
Lord, if you grant me
Kingship of the world,
I'll hurl it out of home
Like dung on a dunghill.
These couple of living moments
I cannot spend in brawls;
Over this pot of cruelty,
Lord, place another lid;
Just give me some flowers
And a lovely sweetheart;
A little garden
On the riverside;
So I may sit on the bank
In the cool shade of a weeping willow
And write with cheer
Some pleasing *ghazals* –
Now plead to the beloved,
Now curse and taunt the Mullah;
Praise the cup and the cupbearer
To a farmer full of turnips;

And to you, my lord,
Complain like a child.
Now warm and lively hope,
Now burnt out sighs,
Now rhythm and music,
Now chalice and love –
Immersed in a colorful world,
Oblivious of the world.
Give rule to those
Who can endure its force;
With the hand of a butcher
And character of a snake,
Who can sacrifice to themselves
The blood of their brothers;
Who can both eat and digest
The flesh of the poor.
The head carrying the crown
Is the one that kills like a plague;
That roars and tears like a panther
And frightens like a ghost.
The throne cannot be taken
Without sword and hangman;
The more kings there are,
The world is worse for it.
A great king is a great curse
Who thrives on the curse of blood.
Kingship is like fire
And thrives on burning.
Lord, be gracious to us
And keep us from this calamity!
Find a great ass somewhere and
Load it with this bag of gems.
Just beg him once, Sahib,
On my behalf and say,
'Watch, you pimp's ass, don't
Strike Ghani with a kick."

*Hyderabad Jail*

# د جیلخانې خوب

(1)

خوب وینم عالمه که نې څوك راکړې معنیٔ
پروت یم سرم ایښې د خپل یار په زنګانه
خوب وینم چه پورته په هوالکه د باز شومه
کیناستم په بام د محمود سترګې د ایاز شومه
پورته د خاموش زړګی نه خوږ د مینې ساز شومه
خرڅه م په حورو کړه د ډمو زمانه

(2)

خوب وینم چه ناست یم د جبینډی په یخه غاړه
شاه م سویلو کښې لکه سرهٔ شمع ولاړه
سرې شونډې مُسکئې شوه ماته نې وې چه ژاړه ژاړه
څکه دِ دَ زړه وینې دا شراب دی مستانه
خوب وینم عالمه که نې څوک راکړې معنیٔ

(3)

خوب وینم چه باغ دے د ګلونو او ماښام دے
سرې سترګې ساقی د سروګوتو کښې جام دے
لاس په سِتار پروت لیونې مست لکه خیام دے
اړئ پرِنرئے نرئے د مینې افسانه
خوب وینم عالمه که نې څوک راکړې معنیٔ

(4)

خوب وینم چه سپینه سپوږمئ پاس په خندا راغلله
ماله محبوبه په شرم شرم تر خواراغلله
شونډو کښې شراب او په کوکئ کښې قضا راغلله
سُر خمارې راکه پیمانه په پیمانه
خوب وینم عالمه که نې څوک راکړې معنیٔ

(5)

خوب وینم چه پټ شوم په نسیم کښې بهر لاړمه
خواله د جانان لکه د مینې نظر لاړمه
سترګو دَ دلدار له لکه خوب د صحرا لاړمه
یو شرنګ کښې مِ لوټ کړه د عمرونو خزانه
خوب وینم عالمه که نې څوک راکړی معنیٰ

(6)

خوب وینم چه زه لکه لولکه په سیل اووتم
پورته د نرګس نه شوم په خوادَ رامبیل اووتم
تاؤ د سپینې غاړې دلیلیٰ په امیل اووتم
پټ مِ ورته وړې سلامونه جانانه
خوب وینم عالمه که نې څوک راکړی معنیٰ

(7)

خوب وینم چه پورته لکه چغه د منصور شومه
یا یو مُټې خاوُره وم یا لوټې دریاب د نور شومه
خو بانګ دسحر اوشو زه راویښ شوم کروکور شومه
خوب یوړه خوبونه راجهډنې شوه زمانه
وی پریوزه لیونیه تیروه دِ جیلخانه

حیدر آباد جیل -1948ع

**The Prison Dream**

I dream, and seek for it some answer from the world.
I lie and rest my head on the beloved’s lap;
I see myself rising like a falcon to the air;
Alighting on the roof of Mehmoud I become eyes of Ayaz.
I rise from the quiet heart like a tender love song,
Bartering for *houris* the age of courtesans.

I dream I am sitting on the cool bank of *Jindai* –
My beloved amongst maidens stands out as a candle;
Her red lips smile and tell me to weep on,
'Drink your lifeblood, for it is a joyous wine.'
I dream, and seek for it some answer from the world

I dream of an evening at a garden full of flowers –
Red eyes of the cupbearer with wine in ruddy hands;
Fingers on a sitar in elation like Khayyam's,
Gently turning over it the sweet fable of love.
I dream, and seek for it some answer from the world

I dream that the white moon is rising with a smile;
My sweetheart is shy and slowly reaches me –
Wine comes to the lips, demise to the mouth,
And measure for measure she gives me red élan.
I dream, and seek for it some answer from the world.

I dream that I set out shrouded in a zephyr;
Go to my darling's side as a vision of love;
Hang before her eyes like a desert dream,
And lose in one jangle the riches of my life.
I dream, and seek for it some answer from the world

I dream that I set off like a butterfly;
Fly round a narcissus and skim past a jasmine;
Circle the necklace round the beloved's delicate neck
And hail her, invisible, with silent greetings.
I dream, and seek for it some answer from the world

I dream that I rise like the cry of Mansoor –
A handful of dust, I become an ocean of light.
But then I hear the Azan and wake up with a flurry.
Sleep takes away the dreams and the world comes to life
Saying, 'lay down Ghani Khan, do your time in jail.'

*Hyderabad Jail – 1948*

---

# دیوداسی
## (دبُت وینزه)

نوټ : د هندوانو په مندرونو کښے خیشته خیشته جینکے وی، چه هغه د هغے مندر بت ته کیږیزی او د مندر صفائی وغیره کوی. دا اکثر ډیرے ښکلے پیغلے وی. دا ودونه نه شی کولے او د محبت وګے وی چه خلق ډلے ډلے رازی او بت ښکلوی او ورله میوے او ګلونه راوړی. په هغه کانړی د مینے باران وریږی او دے خوارے پیغلے ته هڅو څوک ګوری نا.

په ګوګو وے ګوګوشتکے، تورانئے په تنانه
په چپو چپو مستی به دَ نسیم چپو راوړه
سحر راغے لکه زیرے، د خندا او دَ رنړا
غُټئے ټولو وے مسکا کښے «نن نسیم کښے وه نشه»
وخت یو بل پړاو پوره که، یوه بله شپه په تلو شوه
چا کړه تیره دچا غیږ کښے، په چا تیره په سلګو شوه
ما هم تیره کړه په ناستے، د رنګونو په جهان کښے
هوش او رنګ به م یوځائے کړل، جوړول م تصویرونه
د زړه غم به م ورخور که، دچا ښکلے په احساس کښے
مړاوے مړاوے بنے نظر شو، سوی سوی شان رنګونه
که تصویر دَ لیلیٰ جوړ کړم، د شیرین که د منصور
د هر یو سترګو کښے زه یم، زما درد، زما خوبونه
تور او سور دوه رنګه واخلم ترے چنګیز یا تیمور جوړ کړم
دَ دوئ سترګو کښے دا قهر، زما اور وهی ټوپونه

د دے رنګ لیونتوب لور ته، یو پړی راغله غمګینه
نه لیلیٰ وه نه شهځے وه ، نه هیرا وه نه شیرینه
خیشت ئے نه ؤیو ارمان ؤ چا شاعر خوب کښے لیدلے
مړاوُ سترګو کښے ئے غم ؤ، خماری د چا په مینه
هر نظر هر حرکت کښے ، لیونے د ځُوانئے تال وو
ټول وجود ئے یو سرور وو، یو رنګینه ځُوانه مینه
ماته وے اے مصوره، ماته اوګوره زه څه یم
یوه خواره "د بُت وینزه" د کمینو نه کمینه

ما وے ته د حسن لورځے ، ته رنګینه شهزادګئے ئے
ستـــا په يو سوی نظر به، زرتختـونه شی قـربان
ماوے اے دَ غم مـيـرمنے ، ته د ګلو ښاپيـرے ئے
د ځوانئے په مست بهار کښے ، دارنګونه د خزان
ستا دا شونډے ، شونډے نه دی، ارمانونه د مستئے دی
يوه پټه ميخانه ئے ، ستـا هر څاڅکی کښے طوفان
دے نيازبين جهان کښے دومره تور اؤ درانه غرونه
اے د سرو ګلابو څانګے ، ستـا خو لرے دے خزان
نورے شل پردے دِ پربږده، دا پرده دغم کـړه لرے
چه خندا راشی ګلشن ته، چه روښانه شی جهـــان
بت ته نه ئے د بت وينزه، ستا په سترګو کښے رڼړا ده
ته ساقی ئے ته شراب ئے ، ته خمـار ئے ته جـانان
دومره خيشت او بے ديدنه، دومره مينه بے جانانــه
ستا خائشت چه ليدے نشی، نو ړوند شوے دے جهان
وفـــا ، مينه او ارمان، لکه نُور تـا کښے ځـليری
يو غمګين ارمان پټ کړے ، ستا د ژوند رنګين اُرمان
راځه خوا کښے زما کښينه، زه هم ستا د ارمان رور يم
ته هم ګل د بيابـان ئـے ، زه هـم ګل د بيابــــان
زه هم ژوند يمـه خـوږ کـړے ، دړدولے ، ژړولے
وينه مـينه دواړه ژاړی، غـواړی مـينی له جـانان
ماته ئے اوکتل مسکئے شوه، سترګے ئے ډکے شوے له اوښکو
تور څادر ئے خپل راغونډ که، ځان لـه غلے شوه روانه
خپل اميد او خپل ارمان ئے ورته ستورے د کاروان شو
د سرو ګلو په تلاش کښے ،په صحرا کښے سرګردانه
د رقاصے په قدم کښے ، د ګل څانګے په اندازکښے
يو دنيا د سوز او حسن، هوش کښے رکه شوه زمانه
راته ئے زړه کښے يو بل درد،يو رنګين شان ارمان پرېښود
يــو زريـــن د نور بخـــرے د نورونو د جـهـانه

**Deodasai**

The doves were cooing and larks twittered away
As waves of zephyr brought wave on wave of joy.

Morning came with tidings of laughter and light;
All the buds were smiling – the air was euphoric.

Time turned another tide, another night was parting –
Some spent it in love's lap, while others sulked and pined.

I also spent it sitting in a world of fluorescence,
Blending thought with color, painting pictures.

I would spread out my sorrow fancying a beauty
Whose hues would singe out and eyes dim down.

Should I paint Laila's face, of Shireen or of Mansoor
I am in everyone's eyes – my pain beside my dreams

Should I take red and black to paint Changez? Taimur?
The fury of their eyes is fanning my own fire.

A sad fairy came along the way of these frenzied colors –
Neither Laila nor Shahi, Heer nor Shireen.

Her beauty was a longing, envisioned by a poet;
Her eyes were dim and sad, bound to someone's love.

There was youth's rhythm in every glance and gesture
Her body was a joy – colored with fresh love.

She said, 'Artist, look at me, what am I?
A wretched idol's vassal, lowlier than the low.'

I said, 'You're beauty's daughter, a princess full of charm;
With a single fiery gaze, you'd raze a thousand thrones.'

I said, 'O kin of sorrow, you are a fairy of flowers;
Wherefrom these hues of autumn in springtime of youth?

'Yours are just not lips, they are joys and yearnings –
A hidden cellar where each droplet harbors a storm.

'Such black and heavy burdens at your tender age,
O branch of red roses, your autumn is still far.

‘Let other veils be, just lift the veil of sadness;
Let laughter reach the flowers and lighten up the world.

‘You’re not an idol’s vassal – there’s brilliance in your eyes;
You are the cupbearer, wine, euphoria and love.

Such beauty yet unnoticed, and such love unrequited
The world must be blind if it cannot see your grace

‘Faithfulness shines through you and so do love and longing;
A sad thought is hiding the brilliance of your wishes.

‘Come here and sit by me; I am your kindred soul;
You are a flower of the wild and so am I.

‘I’ve also been hurt by life, pained and grieved;
My blood and love both weep and long for love.

She looked at me and smiled; her eyes welled up;
She took her black shawl and walked away in silence.

Her own hope, her wish became her guiding star
As she roved the desert in search of crimson flowers.

Like a dancer’s step, like a branch of blooms,
A touching world of grace is lost to consciousness.

Leaving me with another ache, a fond wish,
A golden grain of light from a radiant world.

# تصور

زه یم ناست څان له جانان یو تصور کښې جوړومه
کله ئې سترګې تورومه کله ئې شونډې ښکلومه
زه یم ناست د غم په هار کښې د رنړا بخری پیمه
خم د رنګ کښې لا خمار شته زه تې لپې ډکومه
د سخی ګوتو دِ څار شم ځنګه ښکلې ویش د وکه
زه یو څاڅکې خو ځیګر کښې دریابونه ګرزومه
زر اؤ زور اؤ تخت د واغشت، خیښت نظر او خیال د راکه
د سرور په سور طوفان کښې دِ کړه ډوبه لوړه طمعه
دا یو غم د ویشه پاتې چرته پټ تیاره کښې ناست وو
رو رو پټ م زړه له راغې لکه مار د ښکار په سمه
په دې هر څه دِ رضا یم د لالونو زړو خانه
غم څه مرګ م هم قبول دې په خندا ئې قبلومه
دا خو تا اور اورکې یو د سرور ماته ښبلې
څکه زه دِ تور محل کښې خپل خوبونه بلومه
خلق وائی لاړ بوډا شو، غنی خپلې مستئې وخوړ
زه یم ناست د یار ویښتو کښې د نرګس ګلونه ږدمه
مرګه زه چرته رکیږه زه لا نه یمه او زګار
خم د رنګ کښې لا خمار شته زه تې لپې ډکومه

**Reverie**

I sit alone and fancy creating a beloved for myself;
Sometimes I paint her eyes black, sometimes I kiss her lips.

I sit here planting beads of light in the string of sorrow;
Joy still flows from the amphora of colors into my cupped hands.

I hail your generous hands – how wise your disposal!
I am a single drop, but harbor oceans in my heart.

You took gold, power, and throne, and gave me beauty, sight and thought;
You drowned hunger and thirst in the red storm of elation.

A sorrow, not yet meted, kept hiding somewhere in the dark;
It slowly crept up to my heart like a serpent on the prowl.

I am happy with your will, o lord, of gem and gold!
Sorrow? I'm even ready for death and would willingly embrace it,

Were it not for the firefly of joy you've blessed me with,
Allowing me to light up my dreams in this dark manor.

People say, 'There, Ghani grows old; consumed by his passions'
While I sit and arrange narcissi in the beloved's hair.

Death, go somewhere, get lost! I'm not done as yet –
Joy still flows from the amphora of colors into my cupped hands.

---

يو جام

د رندئ هوا نن الوځي ماښام کښې
واخله ډوب کړه ټول غمونه په يو جام کښې
څه که شوے چشتي ملنګ څه که امير شوے
کور کښې فرق نه وي آقا اؤ په غلام کښې
تور ښکاري مرګي توله دي لاس نيولي
خانده، خانده نن، بيا نه شي خندا دام کښې

## A Chalice

The air of drunkenness is floating in the dusk;
Come and drown all your sorrows in a chalice.
What matters if you are a yogi or an *amir* –
At home, there is no difference between master and slave.
Death's hand, the black hunter, is weighing well the blow;
Laugh! Laugh now, before laughter is ensnared.

---

## خمار

چه نشه شمه د خپله ځانه وځم
لکه وځي چه تنزرے د پنجرے نه
مست زړګے د غمه دا رنګه اوچت شي
لکه پورته سر کړي ګل د اديرے نه ٠
درونَد وجود ، مجبوره تن مکان کښيے پرېږدم
او د خيال په سبا پيرئ باندے شم سور
د اووم آسمان په سيل ئے کړم روان
لټوم د ژوند چينه د رڼا کور
د ساقي خمار سرور م پکار نه دے
دا زه ګورم د خپل خيالٔ نيلي له لار
دا د ده د رنګينه وجود خوراك دے
دا مستي ، مينه او حسن او دلدار
دا چه زه د جانان سترګے سېکلومه
دا چمکنے دَه له ورکومه د رفتار
د شفق د سرُو دکوم ځان له جامونه
دا چه سترګے سرے کومه په خمار
ځه په عيش دِ ژوندون تيرکهٔ ملاجانه
د تالاش د سوزېدونه خبر نه شوے
عبادت سره تلے حورے غِلمان
د آرمان خاورے کيدو نه خبر نه شوے

## Euphoria

When I drink and come out of my self
Like a partridge let out from a cage;
My spirit rises from sorrow like
A flower lifts its head in a cemetery.
My ponderous being stays bound to the corpus
As I fly upon the fairy of thought;
It takes me for a visit to the seventh sky;
I seek the fount of life and the house of light.
I don't need the cupbearer's inebriation myself;
It just helps me guide the steed of thought –
It serves as food for its colorful being –
This spiritedness, love, beauty and the beloved.
I am kissing the eyes of my sweetheart
And urge the steed of my fancy on;
I fill my chalices with the redness of sundown
And let my eyes redden with drunkenness.
How lavishly you've lived your life, o mullah!
You were never seared by a searching spirit;
With worship you weighed *houris* and *gilman*,
And never learned how yearning turned to dust.
Your own fire could not melt you like a candle;
You had sweet wine but could not feel the boon;
A joyous heart could not take over your conscious;
You could not bloom as a garden autumn lends to spring.
The life and search of the madman is over now;
His own footsteps lead his weary head to the grave;
Revealing its moment of color like a flower,
He washes away like a river into the sea.

*Hyderabad Jail*

---

# مرګ

ساز داسې آواز دې ښکاره پټ کړي پټ ښکاره کړي
تورې ختهې واخلي ترې نه جوړه مناره کړي
قبر باندې شال يو د اطلس د بخمل واچوي
لاس کې د انسان لمحې له مرګ او اجل واچوي
خو مرګ د پرده پوش کړي د آدم زوال د هوشه ورک
مرګ هغه خزان دې چه ګل کړي د ګل فروشه ورک
مرګ ګواه د رب د مينې رحم د انسان سره
مرګ يوه وعده د سپرلي شوې د خزان سره
ژوند يو ښاخنکې مينه ده، د مينې ننداره کړي
تورې ختهې واخلي ترې نه جوړه مناره کړي
ساز د ځوانئې غشې دې د مرګ سره د جنګ قيصه
دا ده د انسان د زغرې، تورې او تفنګ قيصه
دا ده د غلام د فخر، کبر او د ننګ قيصه
شمع پتنګ نه دې دا د ستوري او پتنګ قيصه
ژوند د آدم څه دې ، مينه، مينه ده د ځان سره
خاؤرې دې آدم، خاورې جنون سره جانان سره
مرګ لويه نيکي وه چه تا اوکړه د انسان سره
مرګ ستا کور له يوړهٔ ګني ؤ به تل د ځان سره
مرګ هغه نيتهه چه جانان کيښوه د جانان سره
مرګ پتهه نکاح ده د مکان د لامکان سره
مرګ کښې د ژوندون د درياب پتهه کنار ده
مرګ مجبوره ځان له د خپل حسن ننداره ده
مرګ بس يو ګواه زما د ژوند ستا د جلال
اے عجيبه خانه د تيرې او د هلال!

---

خانبور

## Death

Music is the sound that veils the visible and reveals the hidden;
Takes black muck and builds with it a minaret;

Spreads a shawl of *atlas*, of *malmal* on the grave,
And puts in the hands of man for a moment, life and death.

But death blinds you, unaware of man's fall –
An autumn that steals the flower from the flower peddler.

Death is testimony of god's love and mercy for man –
A promise made between autumn and spring.

Life is a drop of love, and it relishes love;
Takes black muck and builds with it a minaret

Music is the thorn of youth, a tale of battling death;
It is a tale of man's honed sword and musket

A tale of the slave's pride, of the grave, and dignity;
Not of moth and candle, it's the tale of moth and star.

What is man's life but love, love of self;
Man is dust, dust as his passion, dust as the beloved.

Death, it is your great act of piety for man –
You take him to your house or he'd be left to himself

Death is a covenant between the lover and the beloved;
Death is a secret wedlock between being and non-being.

Death harbors the hidden port of life's ocean;
Death is helpless and a vision of beauty to itself.

Death is the only witness of my life and your grace,
And O strange lord, of night and the crescent.

*Khanpur*

# لیډر

د کارغه خوله کړه ژبه د مار کړه
د چرګې عقل کړه زړه د سیار[1] کړه
مرئې د سپي کړه چه ښه غپار که
ضد د کچر کړه غرور پرې بار کړه
خته د کلي ډیران د ښار کړه
بیا چرته ړوند کولال یو یار کړه

تا له به نوې
لیډر تیار کړه

**Leader**

Take a crow's beak,
A snake's tongue,
A chicken's brain,
And the heart of a rambler,
A dog's throat
That barks well,
A mule's stubbornness,
And deck it pride,
Mud from the village,
And the city's dunghill;
And then befriend
A blind potter,
Who will prepare
A new leader for you.

---

# څوکه

لرې لرې په ورځو کښې یو سپینه څوکه ښکاري
خو په لاره کښې دي غرونه او درې دي غمونو

غلې غلې مې رګونو کښې یو ښکلې آواز دې
پکښې تور سوي سازونه، زېړې پاڼې د ګلونو

رو رو پټ پټ مې ځیګر کښې یو همېن ستار غږوي
عجب ساز د خاموشۍ دے لیونے کړم سرونو

او ماته ډېره لویه لاره، د ازغو د تیارو پاسے
خو چه دغه څوکه وینم اور مې بل شي په رګونو

دک د ګلو کور مې ګور شي، هر ګلاب راته پیغور شي
همه خیشت(*) د ژوندکړي پټے تورے لړے د غمونو

زړه مې وئي چه پاڅه پاڅه غني خان پسے ملنګ ګړه
دغه څوکه کښې پټ پروت دے ستا مطلب د مطلبونو

---

(*) خیشت: بنایست.

## Point

Far away in the clouds I see a white point,
But there are hills on the way and passes of cares.
Quietly in my veins a pleasant voice resounds,
Carrying singed strains, and yellow leaves.
Gently and dimly, a sitar rings in my heart,
Strange tunes of silence drive me mad.
And there is a long way of night and thorns,
But when I see that point, my veins start blazing;
My florid home becomes a grave, each flower a taunt.
The beauty of life veils the black mist of sorrow;
My heart tells me, ‘Get up and throw yourself at it!
In that point lies hidden your meaning of meanings.’

# نرس

د درد مند د خوار خدمت　　خدمت نه دے عبادت دے
لکه مور، رحم او مینه　　د حوا اصلی فطرت دے
دا د مرګ سره جګړے　　دا نرتوب او شجاعت دے
دا د درد په اور کښے رحم　　او تیارو کښے سپین مشال
هر ژوندے د ښځے زوے دے　　هم ئے خیشت او هم کمال
که دنیا ورته سپک ګوری　　دنیا څوک دی پیژندلی
د شمکورو خرو ګیله ده　　هر یو لال ئے خاورے کړے
لور د خیشت او مور د ژوند　　دے له رب پیدا حوا کړه
دا خو مونږه شاعرانو　　یا ساقی یا دلربا کړه
د مغرب قچر تهذیب دا　　یوه مسته شان بلا کړه
نه ئے مور کړه نه ئے خور کړه　　نۀ د دین، نۀ د دنیا کړه
د حوا اصلی مقام　　رحم مینه او خدمت دے
دا د مرګ سره جګړے　　خدمت نه دے عبادت دے

**Nurse**

To serve the sick and wretched
Is not service but worship;
Like a mother, mercy and love
Belong to Eve’s true nature.
This struggle against death
Is full of courage and daring –
This mercy in the blaze of pain
And a white beacon in darkness.
All living men are sons of women,
So is their beauty and excellence;
If the world looks down on them
When has it acknowledged merit?
A reproach to blind asses
Who turn every gem into dust.
The daughter of grace and mother of life
Is wherefore God created Eve.
It’s us poets who have made
Her a cupbearer or a beloved;
The west’s perverse culture
Has made her a seductive demon –
Neither a mother nor a sister;

Neither of religion nor of the world.

The real attributes of Eve
Are service, mercy and love –
This struggle against death
Is not service but worship.

---

# جنت اؤ دنیا

چه مستي وی اؤ څواني وی او جانان وی ږو ډک جام
ډیر ګلونه، لږ یاران، او غمګین غوندے ماښام
عشق څه اور وی او څه نوروی زړهٔ لمبے لکه تنور وی
په دے ژوند به زه ور زار کړم جنتونه ستا تمام
خو دا ګټه په دے وکړے چه هیڅ رنګ له قرار نشته
هر ساعت، هر رنګ د ژوند،ستا دَ وخت بے کس غلام
او جنت کښے ملا وائی، وخت به وے زما غلام
دے چه روک شی او زه شته شم، ټول به وران م شی تمام
چه زه ټول عمر زلمے یم، زلمے توب به یو عذاب شی
څکه اوس راباندے ګران دے، چه ئے خیشت شی زر تمام
تل سپوږمئ د څوارلسمے، تل جانان د شپاړسمے
تل څواني، سیند د شرابو، دا دوزخ دے که انعام
دے دنیا پسے به ژاړم، دا تیاره هلال به غواړم
هره ورځ به یادومه، نرئے لړه د ماښام
تنګ دَ حورو وفادارو، بے وفا جانان به غواړم
ستا آدم په ذات ښکاری دے،دَ ښکار خوند کوی هر ګام
دمستئے د سیند په غاړه، ثوابی روژے به نیسم
اسویلی به کوم یادوم به د ساقی نیمګړے جام
هر یو شے چه ابدی شی، یو آفت شی یو عذاب شي
بس یو تاسره مزه کا دا ازل، ابد، دوام
بنده نوے رنګ محل کښے، نوے نوے جانان غواړی
بیابان کښے سرهٔ ګلونه، توره شپه، چراغان غواړی
تل تیاره کښے دے روکیږی، تل رڼا کښے هم ړندیږی
دے بچے د تغیر دے، یو حالت کښے نه تینګیږی

که دڅ ستا جنت له یوړه، دا فطرت او دا وجود
یو څو ورځو کښې به سوزي، په سرو سترګو به ژړېږي
اې د لوئې فضل مالکه، ماله دا دنیا جنت که
فارموله ئې ده آسانه، د درې توکونه جوړېږي
لکه ویلې م دې سر کښې، بس جانان، ځواني او جام
چه زما لیونې سر پې کله کله مشغولیږي
او هغه بل د مرګه پس م ملاجان پسې خیرات که
تش د حورو په خوبونو که دَ خوار ګذاره کیږي
ماله دلته یوه زاکه غونډه، مسته تکه سپینه
مینه ناکه، سپینه شمع چه لمبې وهي بلیږي
شل رنګونه ئې نظر کښې، شل مزاجَ په ځیګر کښې
د سپرلي هسې خوبونه، کله نمر کله وریږي
یو ځرمنه کښې دننه، یو حرم دَ جینکو وي
کله مسته او سرشاره، کله غلې شي شرمیږي
او زما دې ستړي زړه کښې شل رنګونه اور لمبه کړي
چه د اور هسې سوزیږي، د لښتو هسې ګډیږي
چه په یو بې تاب نظر م داسې مست داسې نشه کړي
میخانې ورته حیرانې او ساقي ورته پسخیږي
د هغې زرو بدل کښې، ماله دلته یوه راکه
د ابد ټوله ځواني م، د څو کالو مشغولا که
که دانه کښې اې جانانه، سرې حورې د سنبال که
نه م هغلته پکاردي، نه م دلته کښې یادیږي
غټې غټې، سپینې سپینې، چه نه سوال نه منت غواړي
ارتې، بیرتې، اوږې سترګې، په بخملو به لګیږي
ربه! اې جانانه ربه! دغه یو سوال څو منظور که
ګني لاړ غني دِ مر شو وریسې ئې جبنې کیږي

**Heaven and Earth**

Would there be elation and youth, the beloved and a chalice full;
Several flowers and a few friends in a mellow evening.
Passion be light and fire, and the heart a flaming *tandoor;*
I would gladly give up your heavens to embrace such a life.

I'd far prefer this gain because no color is at rest;
Each moment, each hue of life, is your time's helpless slave;
And the mullah says, in paradise, time would be my slave –
If he were somehow undone, all my troubles would end.
If I find eternal youth, it would become a curse;
I cherish it now as its beauty is soon consumed.
An eternally full moon, an eternal sweet sixteen,
Eternal youth, a river of wine, is it a reward or hell?
I'd weep after this world, and yearn for the night's crescent,
And remember everyday, the thin mist of eventide.
Sick of faithful *houris*, I'd seek a fickle beloved;
Man is a hunter by nature, and revels in hunting.
I would fast on revelry's riverside,
And sulk after the cupbearer's half-full chalice.
Anything eternal becomes a curse and a catastrophe;
It suits only you, this eternal beginning and end.
Man seeks in each new palace a new beloved;
Seeks red flowers in a wasteland, seeks lighting at night;
He's lost in unending darkness, and blinded by perpetual light;
He is the child of change and cannot stay the same.
If you took him to heaven, this nature and this being,
He'll soon be searing and weeping with sore eyes.
O lord of great bestowal, turn this world into heaven!
The formula is simple, comprising these three things –
As I've said before, a beloved, youth, and a chalice,
So that my silly head is amused from time to time;
And after this worldly death, endow me to the Mullah,
If the wretch would be appeased by mere dreams of *houris*.
Give me a *houri* here – lively, full, and fair –
A loving white candle, which burns and flames
In her glance myriad colors; in her nature myriad moods;
With manners such as spring – now sunshine, now rain;
Would she be under one skin, a harem of women;
Now brimming and vivacious, now quiet and retiring;
And in my tired heart, kindle restive flames,
Blazing like fire and dancing like a rill,
And with one impatient glance, intoxicate me so
As to leave everyone amazed and the cupbearer envious.
In place of those thousands give me one here;
Turn my eternal youth to a few years' rejoicing;
If you cannot do this, lord, keep your fat *houris*;
I neither need them there nor miss them here.
Those fat and fair ones who yield without entreaty;
Wide and hungry eyes, wallowing in *malmal.*
Lord! My beloved lord! Just grant this one prayer,
Or else, your Ghani would pine away in love.

# څمه، څمه، څمه

په رڼړا باندې مښين يم څو تيارونه نه يريږم
که پښيمان په ګناه نه يم، پړخونه غاوره کيږم
پرون تخم ؤم، نن ګل يم، سبا بيا به خاوره کيږم
زه د باد يوه چپه يم، په صحرا په باغ تيريږم
کله باد کله باران شی، کله اور کښې اوسوزيږم
خو زه ځم په مخه څمه
که اودريږمه روکيږم
چه وريښ شم په ګلونو، کړم څولئې د عطرو ډکه
خوروومه ئې چاپيره، ورته خاندم خوشحاليږم
چه د رنګ په جهان ورشم، يو رنګين د بوډۍ ټال شم
رنګارنګ رنګين جمال کښې، سپينه شمع شم ګډيږم
چه د مستو په محفل کښې، په ساقی او په جام ورشم
ليونې شانې خمار شم، په خوبونو کښې خوريږم
چه جهان تياره تياره شی، اور شی تندر شی عذاب شی
زه پښتون د پښتو غر شم، نه يريږم نه نړيږم
چه د علم په جهان کښې، دَ اوښيارو خوا کښې کښينم
هم هغوی پوری خندا کړم
هم په ځان پورې خنديږم
په فکرونو ليونې شوم، په لټون لټون شوم ستړې
خو آخر دغې له راغلم، نه پوهيږم نه پوهيږم
خو زه څمه څمه څمه، تل روان يمه په مخه
يو مقام ته ور روان يم، يو مقام ته به رسيږم
او په لاره چه څه راغله، که تياره وی که رڼړا
زه رڼړا کښې يم خوشحاله
خو تيارو نه نه يريږم

**On, On, and Onwards**

I am in love with light but do not fear the dark;
If I don’t regret sin, I don’t boast of sinning either.
Yesterday a seed, today a flower, tomorrow I’ll turn to dust;
I am a gust of wind blowing over the desert garden –
Now, a breeze, now rain, at times I sear in flames,
But I move ever onwards –
I’ll be lost if I stand still

If I chance upon flowers, I fill my lap with fragrance
And I spread it all over, smiling and cheering;
If I chance upon a world of colors, I become a rainbow;
In parti-colored glory, I dance like a white candle.
In the house of revelry, when I find the cupbearer,
I become a mad ecstasy, unfolding in dreams.
If the world grows dark, bringing fire, lightning, and curse,
I am a Puhktoon mountain of courage, intrepid and unyielding;
And in times of mourning, I sit by the wise
Laughing at them,
And laughing at myself
I’m maddened with cares, and tired of searching
Is that not what I’m here for? I don’t understand –
But on, on, and onwards I go, ever onwards,
Toward a destiny I will one day reach;
And whatever comes on the way, night or day,

I revel in light
But do not fear the dark.

---

# ساز

شوندو له خوند — او سترگو له رنگ
پوزې له بوئین — د نرگس د لونگ
زړه له امید او — مستی او ارمان
غوږ له سرود او — شنړار او شرنگ
ماله سرور او — جمدون او نور
دا څو آوازه — د ژوند د رنگ
ټق ټق د اور — ټپ ټپ د باران
اِخ اَخ د وصال — اُف اُف دَ ارمان
وئ وئ د جنون — وَخ وَخ دَ صنم
نانا ، او او — هر وَخ دَ صنم
قتې قتې دَ خندا — پرق پرق دَ مستې
شرنگ شرنگ د پانزیب — چنړ چنړ دَ لښتئ
شرشر دَ اوبو — شغ شغ دَ نسیم
بس بس دَ دلبر — بړ بړ دَ غلیم
هیس هیس دَ هنر — شنگ شنگ د گولئې
قُر قُر دَ چلم — پر پر دَ لولئې
دَم دَم د دوبړې — ټنگ ټنگ دَ رباب
غړ غړ دَ پیالئې — سخ سخ دَ کباب
چپ چپ دَ کوکئې — پس پس دَ دلبر
چړ چق د تارو — گوگو د کَمتر
بس بس دهٔ آشنا — بد بدئ روان

ایش ایش د قلم
هاں هاں د بیان

حیدر آباد جیل 1948ع

## Music

Flavor for lips,
Color for eyes,

Smell for the nose,
Of narcissus and clove.
Hope for the heart,
Spirit and longing;
Sarod for the ear,
Jingle and strum.
For me élan,
Life and light;
A few voices
Of life’s colors.
Crack-a-crackle of fire,
Pitter-patter of rain,
Ach, ach of yearning,
Oh, oh of longing,
Shish, shish of passion,
Ooh, ooh of loving,
The eternal no, no
And yes, yes of a darling.
Giggle-gaggle of laughter,
Crack-a-cackle of cheer,
Tin-tinkle of anklets,
Babble-bubble of a rill,
Swash n’ gobble of water,
Whispering whistle of wind,
‘Stop, stop,’ of a sweetheart,
Froth n’ foam of the foe,
Swish, swish of lashes,
Whiz, whiz of bullets,
Crack-a-crackle of *chillum*,
A butterfly’s flitter,
Boom-boom of the drum,
Twang-twang of the *rabab*,
Gurgle-gargle of the cup,
Sizzle, sizzle of the kebab,
Slurp, slurp of the mouth,
Sigh! Sigh! of the beloved,
Chuck-a-chuckle of a *chukar*,
Coo-coo of a pigeon,
‘Stop, stop!’ of the lover,
‘Fie, fie,’ she goes on;
Squeak, squeak of the pen
On and on, this dicourse.

*Hyderabad Jail – 1948*

---

# سوال

نه مِ ستا دا نرۍ شونډې دي پکار
نه دا زلفې دِ ول ول لکه ښامار
نه دَ بتې په شان دنګه غړۍ غواړم
نرګسي سترګې نه ډکې دَ خمار
نه غاښونه دِ لعلونه دَ عدن
نه ننګې دِ غټې سرې سرې لکه انار
نه پستې د سریندې په شان خبرې
نه وجود لکه د سروې وضعدار
خو یو شې راته وښیه دلبره!
دَ لاله په شان زړګې غواړم داغدار
یو دوه اوښکې چه د غم او محبت وي
په لکونو به لعلونه ترې کړم زار

آبي جهاز –نلډیرا – جولائی 1929ء

**Entreaty**

I do not need your red sculpted lips,
Nor hair in loops like a serpent's coils,
Nor a nape as graceful as a swan's,
Nor narcissus eyes full of drunkenness,
Nor teeth as perfect as pearls of heaven,
Nor cheeks ruddy and full as pomegranates,
Nor a voice mellifluous as a *sarinda,*
Nor a figure as elegant as a poplar,
But show me just this one thing, my love,
I seek a heart stained like a poppy flower –

Pearls by millions I would gladly cede,
For the sake of tears borne of love and grief.

*Ship – Neldera – July 1929*
(Written at age 15)